# زېری

علمي- څېړنيزه، ادبي پنځلس ورځنۍ جريده

د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

دوه نۍ (دوشنبه) د مرغومي ۱۹ - ۲۰مه ګنه، پرله پسې (۴٥۹-۴٦۰) مه ګنه، د ۱۴۰۴ل کال د مرغومي ۳۰مه، د ۱۴۴۷هـ.ق. کال د رجب ۳۰ مه او د ۲۰۲٦م.کال د جنوري۱۹مه




شاهسوار د تخيل شو زمـــــا سترې
ناتمامه بيابان دی ستـــــــا صفت

هر وېښته مې ستا صفت لره زبان کړ
خو تر اوسه مې ارمان دی ستا صفت

حمزه بابا

پوهاند دوکتور اجمل ښکلی

# مهال په ژبه کې

د شلمې پېړۍ مشهور ژبپوه ساپير د امريکا د بـــومي ژبو په اړه څېړنې کړې. هغه پـــــه دې اند و، چې تفکر د ژبې تابع دی. د بومي امريکايانو په ژبو کې چـــــې څه شته، هغه د دوی د تفکر بـــرخه ده. د ده يوه شاګرد بنجامين ورف هم د ده لار ونيوه او د ځايي هوپي قبايلو پـه ژبه يې څېړنې وکړې، چې دې پايلې ته ورسېد، چې پـه هوپي کې د سرعت مفهوم نشته، ځکه چې سرعت پـــــه فاصله او مهال معلومېږي، چې په دې ژبه کې نشته؛ نو که فيزيک په دې ژبه وای، بېخي به مختلف وای: يعنې ساينس هم د ژبې تابع دی(مهند، ۱۳۹۸، ٦۹) .

د ژبې او تفکر دې ډول راډيکال فکر تـــــــه پـه ژبپوهنه کې د نسبيت تيوري وايي. د ژبې او تفکر په نسبت کـــــــــې څه هم د ژبې د بنسټتوب او لومړيتوب نظريه اوس رد شوې؛ خـــو په ژبه کې د مهال غوندې مفاهيم ځای لري. دا چې پـــــه ژبه کې مهال څه ډول وړاندې کېږي، دلته بــه په دې اړه خبرې وکړو؛ خـــو ورف (پاسنی اثر، ٦۹) پـــه دې اند دی، چې پــــــــه هوپي کې مهال خطي نه دی؛ نو له مکاني استعارو ورته استفاده نه کېږي، لکه موږ چې په هندو اروپايي يا نورو ژبو کې د مکان له عبارتونو او توکيو ورته استفاده کوو: "د کور او پوهنتون ترمنځ" له بېلګې نه چې د "د سهار او ماسپښين ترمنځ" لپاره استفاده کوو.

د ژبې او تفکر دې ډول راډيکال فکر ته پـــه ژبپوهنه کې د نسبيت تيوري وايي. د ژبې او تفکر په نسبت کې څه هم د ژبې د بنسټتوب او لومړيتوب نظريه اوس رد شوې؛ خـــو په ژبه کې د مهال غوندې مفاهيم ځای لري. دا چې پـــه ژبه کې مهال څه ډول وړاندې کېږي، دلته بـــه په دې اړه خبرې وکړو؛ خو ورف (پاسنی اثر، ٦۹) پـــه دې اند دی، چې پــــــــه هوپي کې مهال خطي نه دی؛ نو له مکاني استعارو ورته استفاده نـــه کېږي، لکه موږ چې په هندو اروپايي يا نورو ژبو کـــې د مکان له عبارتونو او توکيو ورته استفاده کوو: "د کور او پوهنتون ترمنځ" له بېلګې نه چې د "د سهار او ماسپښين ترمنځ" لپاره استفاده کوو.

چېرته مې اورېدلي وو، کـــــــه لوستي وو، چې فلسفه/ساينس مهال ته د ښکارندې د بدلون په سترګه ګوري. د دې معنا دا ده، چې مهال بهرنی عيني وجود نـــه لري. دا چې د ښکارندې اجزا زړېږي او پـــــه ښکارنده کې بدلون راولي؛ نو خلکو ته د مهال تصور ورکوي.

که د ژبې لـــه ظرفه ورته وګورو، مهال داسې يوه انتزاعي مفهوم دی، چـــــې د مادي شيانو په مټ ځان ښيي او په ذهن کې حضور پيدا کوي. د دې پـايله دا راوځي چې موږ مهال مستقيم نشو تجربه کولی، بـــلکې د نورو شيانو په مټ يې درک کوو .

له نورو شيانو نه موخه دا ده، چې پـــــه ژبه کې مهال د استعارې په مټ راښکاره کېږي او دې تــــــــه په ادراکي ژبپوهنه کې مفهومي استعاره وايي چې ليکاف او جانسن يې په اړه د "استعارې چې په مټ يې موږ ژوند ۲مخ

ل: پروفيسور محمد نواز طائر

پښتو ژباړه: محمد الله ساپی

# پښتو ژبه او ادب (۱) برخه

## د پروفيسور محمد نواز طائر "پښتو ژبې او ادب ته لنډه کتنه" اردو اثر لومړۍ مقاله

د جلا فرهنګ او بېل توکم، خپلواک او د ځانـــګړې ټولنې درلودونکی پښتون قام له پېړيو پېړيو را پدېخوا د روه په خاوره کې مېشت دی. دوی لـــــه خپل ځانګړي مدنيت او دود دستور څخه برخمن دي. تاريخ يې له ډېر ځلېدونکي او وياړلي ماضي څخه ډک دی. د خپل ځانــــګړي ټولنيز ژوند او ځانګړې ژبې له برکته چې ډېر روښانه روايات له ځان سره لري؛ د علامه اقبال په قول، "طفلک ده ساله آش لشکر ګر است" (۱). دوی نه يوازې دا چې تل لــه هر يرغلګر سره مرسته کړې چـــې هند تر خپلې ولکې لاندې راولي، بلکې څو څو ځله يې خپله هـم د هند خاوره فتح کړې(۲) او پرله پسې يې څو پېړۍ د هند پر لويې وچې واکمني هم تر سره کړې ده. د دوی په ختـه او فطرت کې واکمني او سلطنت اغږل شوی. تــــاج پر سرول يا يې په نورو لورول، د دوی قومي سرلوړي ده. غزنويان، غوريان، سوريان، لــــــــوديان ان تر دې چې د مغلو واکمنان او امپراطوران د دوی لـــــه برکته واک ته رسيدلي دي. د جنګ او جګړې په هــــر ډګر کې د دې قوم سرښندونکو ځوانانو په لومړۍ ليکه کې جګړې ته دانګلي او د جنګ په ډګر کې يې چې د هر چـــــا په پلوۍ او ملاتړ توره تر ملا تړلې، هغوی يې د برياليتوب تر پولو رسولي دي. د هند په لويه وچه کې د دوی پــــــه لاس رغول شوې لويې لويې کلاګانې، زړه راښکونکې مانۍ، تل پاتې يادګارونه دي. اوسمهال هم د دوی د تاريخ د زرينو وختونو يادګارونه د هند په لويه وچه کـــــې د بېلګې په توګه هسکه غاړه ولاړ دي. په منځنې هند او پــــه روهليکنډ کې نوې رغول شوې ودانۍ او رياستونه د دوی لــــه پرتم او دبدبې څخه د ډک شاليد ياد تازه کوي.

له پښتنو واکمنانو پرته پښتنو اولياوو هم د اسلام د خپرېدو په لار کې چټک ګامونه واخيستل، شپه او ورځ يې پـه ځان يوه کړه او د هند په ځمکه کـې يې د توحيد بېرغ رپاند کـــــړ. د روښنايي او عرفان ډېوې يې بلې کړې. دوی د هندوستان پــه کفرستان کـې د کفر او الحاد بتخانې لــــه اسلامي روحانيت سره د اشنا کېدو مسئوليت پـــــر غاړه واخيست چې تــر اوسه د دې بزرګانو خانقاوو او زيارتونــــــو د روحانيت له وړانګو سره خپله شا و خوا روښانه ساتلې ده.

له پښتنو واکمنانو څخه پرته د پښتنو اولياوو هم د اسلام د خپرېدو په لار کې چټک ګامونه واخيستل، شپه او ورځ يې پـــــه ځان يوه کړه او د هند په ځمکه کـې يې د توحيد بېرغ رپاند کـــــړ. د روښنايي او عرفان ډېوې يې بلې کړې. دوی د هندوستان په کفرستان کـــــــــې د کفر او الحاد بتخانې لـــه اسلامي روحانيت سره د اشنا کېدو مسئوليت پــــر غاړه واخيست چې تر اوسه د دې بزرګانو خانقاوو او زيارتونــــــو د روحانيت له وړانګو سره خپله ۳مخ

څېړنپوه مولا جان تېيوال

# پر ژبو باندې تېری

دا به ډېره ګرانه وي چې په نړۍ کې داسې ټولنه، مؤسسه يا يو سازمان پيدا کړو چې پر ژبو باندې د تېري کـولو د کرغېړن عمل ننګه او ملاتړ وکړي. ځکه چې ژبه د بشري کلتور هغه يواځينی ارزښت دی چـــې د انسانيت تاريخ، فرهنګ او ټولنيز بدلونونه او د هغوی د رامنځته کېـــدو سببونه څېړي او پـــــه خپله پراخه لمنه کې يې رانغاړي، ستايي يې او لــــه يوه نسل څخه يې بل نسل ته د پوهېدو په موخه لېږدوي. د نړۍ د لرې او نږدې سيمو هر اړخيزه پېژندنه او د هېوادونو ترمنځ د اړيکو ټينګول او پالل د ژبې په وسيله ترسره کېږي. که چېرې په ټولنيز ژوند او انساني اړيکو کې د ژبې ونډه غوڅه او رغنده نه وای، انسانان به د نړۍ او بشري ټولنو په اړه هېڅ نــــه پوهېدای. په اولس کې به له پرمختللې ټکنالوژۍ ګټه اخيستل هم نـــه وای ممکن او نه به پوهانو دا ستره نړۍ يو کلی بللی وای.

لـــــــه بلې خوا ژبپوهنه د ژبې علم دی. دا پوهه د ژبو په حريم او حقوقو بـــاندې تېری کول نه مني. ژبپوهنه پر دې باندې ټينګار کـــوي چې بايد د ژبو سمه، روغه او سالمه پالنه وشي او د هغـــــو لاملونو پرضد سخته مبارزه وشي چې د ژبـــو حقوق تر پښو لاندې کوي او د پرمختګ مخه يې نيسي. په دې ځای کې دا پوښتنه راولاړېږي چې اصلي ستونزه په څه کـې ده او په ژبو باندې ظلم او تېری د کوم ناوړه هدف لپاره تر سره کېږي.

سره لــه دې چې الله تعالی(ج) انسان د مخلوقاتو اشرف پيدا کړی دی او ژبې يې د دوی نعمت ګرځولې دي خو که چېرې د بشري ټولنو تاريخ تــــه وکتل شي نو سړی ويلای شي چې په ډېری انسانانو کـې دا خاصيت شته چې ځان تر نورو لـــــوړ بولي او تل په دې هڅه کې وي چې ځينې انسانان او يـــــو شمېر بشري ټولنې له دغه الهي نعمت څخه بې برخې کړي تر څو پر نورو باندې برتري ولري.

موږ پــــــه نړۍ کې ډېرې داسې بېلګې پيدا کولای شو چې ظالمو ځواکونو د مظلومو ا ولسونو ژبـــــې ځپلې دي. د کارونې له ډګر څخه يې ويستلي او پـــه پای کې يې د مرګ تر پولې رسولې دي. په دې عمل سره يـــې د خپلې خوښې ژبو ته د کارونې او ودې لاره هواره کـــړې ده. دوی په دې ناروا کړنې سره د انساني کلتور لوی او اساسي ارزښت له منځه وړی او په هېڅ صورت د بښنې وړ نه دي .

دا ډول کړنې دوی د جنګونو او نېغې لاسوهنې له لارې سرته رسولې، چې کله حالات بدل شوي، ظالمو قوتونو هم د استحصال لاره بدله کړې نورې لارې ګودرې يې خپلې کړې دي چـــــــې ښه نمونه يې فرهنګي يرغل دی. فرهنګي بريد ډېر کرغېړن عمل دی او کـــــه پر ضد يې په هوښيارۍ سره ګام پورته نه شي، مخه يې و نه نيول شي، طبيعي ده چې اول د ژبې جوړښت زيانمنوي او بيا يې لـــه مخې غړوي. د پوهانو په نظر:((يو ځوک مه وژنئ، د مسلک له ساحې څخه يې وباسئ، په خپله مري!))

کله چې ځوک خپله مورنۍ ژبه له لاسه ورکړي او يوازې بيولوژيکي ژوند وکړي، زموږ په نظر تر مړي هم بدتر دي. د دې له پاره چې تر مړو بدتر نه شو، بايد د ژبپوهنې علم غوښتنو او اصولو ته پام وکړو او عملي کولو ته يې ملاوې وتړو خو د دې په ځنګ کې مو دې ته بــايد پام وي چې نورو ژبو ته درناوی وکړو. که سرچينې وګورو داسې ډېر مثالونه پيدا کولای شو چې د واکمنو رژيمونو د ناروا کړنو په پايله کې رامنځته شوي. دا ډول کړنې په تېر کې ځينو المانيانو د سربيانو د ژبې په وړاندې ترسره کړې دي. د ژبپوهنې علم د دې ډول کړنو سره سخت مخالف دی او هڅه کوي چې مخه يې ونيسي ځکـــه د ژبپوهنې علمي لارې چارې او اصول تـــل دا غوښتنه کوي چې ژبې بايد وروزل شي، وده وکړي، وغوړېږي، پراخې هنري او علمي شي، د تمدنونو او پرمختګونو د لېږدونې وسيلې شي او له مړينې د تل لپاره په امان کې شي.

ل: کانديد اکاډميسين مير حسين شاه

ژ: څېړندوی بشرمل زرغون

# د ويرنې تاريخي شاليد او د قنبر علي خان شعر (۱) برخه

ويرنه د هېوادونو پـــه تاريخ، فرهنګ او ادبياتو کې اوږده مخينه لــــري او د شعر هغه ډول دی چې په هغه کې د مړي ستاينه وشي او د نوموړي پـه مړينه د غم څرګندونه وکړي. ويرنه د بــوللې★ (قصيدې) يـو ډول ګڼل شوی دی ځکه پـــــه قصيده کې ستايونکی د ژوندي ستاينه کوي او په ويرنه کې د مړي ټولې ځانګړتياوې راوړل کېږي[1].

ويرنه په اصطلاح کې هغه نظم ته وايي چې په کې د امام حسين رضی الله عنه او د کربلا د نـــــورو شهيدانو ياد راغلی وي او پــــه عامه توګه د محرم د ورځو په ځانګړو ناستو کې پـه جلا ښکلي غږ، سوز او ګداز او درد راوړو ته ويل کېږي. دغه شعرونه پــــــه لومړيو کې ډېر روښانه، بديهي، څرګند او ځلېدونکي وو؛ مګر د وخت په تېرېدو د ويرنې سيمه يا کړۍ پراخه شوه او نوي يا تازه مضمونونه پکې راغلل. د بېلګې په توګه د ستايونکي د ستاينې درد، د هغه ځانګړنې او د ميرڅيو نـــــوم يې، د جنګ د منظرې يادونه، د طبيعي منظرو يــــادونه، د کړاو يادونه، د اس، تورې او جنګ پـــــورې اړونده توکي يې، د دغو ځانګړو مضمونونو پر اساس د ويرنې مقام پـــورته لاړ او د عربي شعر نوی ډول درې ته راغی[2].

ويرنې د عــــربو په شعر کې د ناپوهۍ په دوره کې شتون درلود، په دې اړه ويل شوي هم دي چـــې د عربو شاعري لــــه ويرنې پيل شوې ده او دا ځکه چې شاعر په خپلې ځاني ګټې تکيه وي او د مړي ستاينه هېڅ ګټه نه لري چې له دې وروسته په ژوندوني د يوه کس ستاينه پيل شوه چې ويرنه هم مخ په ځوړ شوه؛ مګر د نـــاپوهۍ په دوره کې د شاعرانو مشره رثاءالخنساء وه چـــــې نوموړې د تماضر بنت عمر بن الشريد د (سراء)، سليم د (اهل نجد روات) شعر وايه چې له دې نه وړاندې او له ده وروسته په عربي ژبه کې داسې شاعره پيدا نه شوه، خنساء به په (عکاظ) کې په (نابغه) شعر وايه او د ده کلام د (نابغه) لپاره د حيرانتيا لامل و، لکه همداسې ويل شوي هم دي: ((که عمه مې "مطلب يې اعشی ده" لـــه تا وړاندې شعر نه وايه؛ نو تا ته مې له دېنه ډېره لوړتيا دربښله)).

د خنساء ټول شعرونه ورور پــــــورې تړل شوي چې د (کلاب) د پېښې په ورځ (د عربو ورځ) مړ او د (سليم) په خاوره کـــې خښ شو، خنساء اسلام ښه پېژندلی و؛ خو هغه وخت نوموړې نـــاچاره، ناتوانه او بوډۍ وه، څلور زامن يې درلودل چـــې د قادسيې په جګړه کې شهيدان شول، هر يو په خپل وار جهاد ته لاړ، (رجز) يې لوسته او د مور وصيت يې پـــــــه ياد راوسته، کله چې د هغوی وروستی مړ کېده؛ نـــو مور يې وويل: ((الحمدالله الذی شرفنی يقتلهم)). دغه اشعار ددې دي چې د ورور قبر ته ناسته، په ژړا او انګولا کې يې د هغه ټولې کړنې يادولې:

أَلا ما لِعَينِكِ أَم ما لَهـــــا
لَقَد أَخضَلَ الدَمعُ سِربالَهـــا
أَبَعدَ اِبنِ عَمرٍو مِن آلِ الشَرِيد
حَلَّت بِهِ الأَرضُ أَثقالَهـــــا
فَإِن تَكُ مُرَّةُ أَودَت بِـــــه
فَقَد كانَ يُكثِرُ تَقتالَهـــــا
سَأَحمِلُ نَفسي عَلى آلَـــةٍ
فَإِن تَصبِرِ النَفسُ تُلقَ السُرور
وَإِن تَجزَعِ النَفسُ أَشقى لَها[3]

د اسلام له راتګ وروسته د ويرنو په اړه ويل کېږي چې د پېغمبر صلی الله عليه واله وسلم لـــور فاطمې رضی الله عنها د عباس بن عبدالمطلب رضی الله عنه د جلا کېدو په غم کې چې خپل خاوند علي رضی الله عنه ورته د لمانځه او د زاريو وړانديز وکړ؛ خو بيا هم نوموړې له ډېر غم او تاوه خپل غږ پورته کړ: ۲مخ

## مهال په ژبه کې...

کوو" په نامه کتاب لیکلی (لیکاف او جانسن ۱۹۸۰). د مفهومي استعارې په نظریه کې استعاره د ورځنۍ ژبې برخه ګڼل کېږي چې ډېره کارېږي؛ خو پخپله د استعارې تعریف دا دی چې د یوه مفهوم د بیان لپاره د یوه بل مفهوم د ځینو برخو پورونې ته وایي.

مفهومي استعاره لـــه نورو مواردو سره سره د مهال د مفهوم سازۍ لپاره هـــم کارېږي. مفهوم سازي یو بهیر (پروسه) دی، چې ویناوال یې یو څیز په یوه مهالي مقطع او مکاني موقعیت کـــې واقع کوي او مخاطب ته، چې دویم مفهوم ساز ورتـه وایي، د درک وړ کوي.

مهال یو انتزاعي مفهوم دی چې د مفهوم سازۍ لپاره یې له ګڼو ژبنیو توکیو استفاده کېږي، لکه د مخکې، وروسته غونډې قیدونو، د تېریدل، راتلل، ول او داســـې نورو فعلونو، سربلي عبارتونو او نومونو استفاده؛ خو دا ټول د لیکاف او جانسن غونډې ادراکي پوهان په دوو ډلبندیو کې راټولوي چې دلته به پرې په وار سره خبرې وکړو:

۱ .مهال د څیز په استعاره کې:

بشر مهال د څیز غونډې درک کوي، چې دا په فعلونو او ځینو سربلي عبارتونو کې رابڅکاره کېږي، لکه وایي:

۱ .اختر راغی.

۲ .په روژې پسې اختر دی.

موږ په بهر نړۍ کـــې شیان د حرکت، صفت یا اړوندتیا له مخې درک کـــوو، مثلا اوبه وینو چې رواني دي، موټرې رواني دي، انسانان ځـــي. داسې موږ فکر کوو، چې مهال هم روان دی، لکه یـــو څیز چې روان وي. له دې سره په څنګ کې ورپسې مـــوږ د "ورو، ژر، اوږده، لنډ او داسې نور قیدونه او صفتونه هـــم لګوو: د اوږې ورځ اوږده وي، د اختر ورځ ژر تېرېږي او لنډه وي. همداسې بـــهر موږ د حرکت په حالت کې شیان وینو، چې په یو بل پسې راځي، له دې نه په اغېز مهال هم پـــه یوه پرله پسې زنځیر کې واقع کوو، لکه د اوونۍ په زنځیر کـــې ورځې یا د کال په زنځیر کې میاشت. د ورځو پرله پسې والی که له یوې خوا د اوونۍ تصور راکوي، له بلې خوا هره ورځ راته د درک وړ کوي؛ نو کـــه شنبه نه وي، یکشنبه معنا نه لري او که یکشنبه نه وي، دوشنبه، همداسې تر اخره.

دې لړ ته چې زموږ په ذهن کې رغښت لري، سکیما وایي. موږ د لارې د سکیما انځور په ذهن کې لرو، چې پیلټکی، منځټکی، اوږده او پای او لري، داسې د مهال لپاره هم دا انځوریزه سکیما د مفهومي استعارې په ډول پور کوو او مهال پرې مفهوم سازي کوو.

انسان د شیانو د مفهوم سازۍ لپاره لـــه خپلو غړیو هم استفاده کوي او پـــه دې اړه د مارک جانسن ( ۱۹۸۷) غونډې ادراکي ژبپوهان وایي چـــــې ادراک بدنمن (Embodied) دی، مثلا موږ وایو: د کال پـــه سر کې، د اختر مخه، د ورځې پای.

د مهال ځانګړي قیدونه لکه اوس، نن، پرون، سبا هم په اصل کې موږ د څیزونو غونډې درک کوو، چې په یو بل پسې راځي، لومړی پرون، بیا نن، بیا اوس، بیا سبا. دا هم د انځوریزې سکیما غـــوندې زموږ د حسي تجربې زېږنده دي چې مـــــوږ د مهال مفهوم سازۍ لپاره ورغزولي دي. دې ډول غزولو تـــــه انګلیسي کې elaboration وایي چې یو مفهوم د نورو د مفهوم سازۍ لپاره ورپراخه شي.

۲ .مهال د مکان په استعاره کې:

مکان هغه ځای ته وایي چې یو څه پکې واقع وي. مطلب دا چې نغاړونکی وي، بهر او دننه ولري. په ژبو کې مهال هم دا ځانګړنه لري، مثلا په دې جمله کې:

۳ .په دې کال کې له ډېرو کړاوونو سره مخ شو.

٤ .خدای به مو له دې سختو ورځو راوباسي.

پـــــه لومړۍ جمله کې "کال" او په دویمه جمله کې "ورځې" د یوه مکان په ډول انځور شوې چې دننه او بهر لري او انسان پکې اوسېدی او ترې راوتی شي. "په ...کې" او "له....نه" سربلي عبارتونه انځوریزې سکیماوې دي چې لومړی ظرفي او دویم پیلټکی ښيي. "په/تر ....پورې" انځوریزه سکیما هم مهال د مکان غونډې مفهوم سازي کوي؛ خو د "له...سره"، "بې...." او داسې نور یې بیا د څیز په ډول انځوروي.

د لنګکر (۲۰۰۸: ۷۸) په اند په مهال کې هم موږ له لیدنځي (Vantage Point) استفاده کوو، څکه چې د ادراکي ژبپوهنې لـــه مخې زمان د مکان په استعاره کې مفهومي کېږي. د مهال د مفهوم سازۍ لپـــــاره دوه لیدنځي ټاکوو، یو ځان او بل یو بل څیز. کله چې وایو، چې "اختر راروان دی، یا اختر تېر شو یا اختر نژدې دی، روژه لرې ده، ژمی په مخ کې دی"، په دې ټولو بېلګو کې مهال ته د کتو لیدنځی موږ پخپله یو، څکه په لومړۍ بېلګه کې اختر زما خوا ته راروان دی، یا له ما تېر شو، ما ته رانژدې دی یا روژه زما له لیده لرې ده او ژمی زما په مخ کې دی؛ خو کله د یوه مهال د درک لپاره یو بل مهال د لیدنځي په توګه ټاکو، لکه: "په روژې پسې اختر دی، یا تر ژمي وروسته پسرلی دی، په بدو ورځو پسې ښې ورځې راځي"، په دې او داسې نورو مثالونو کې لومړی مهال لیدنځی دی، چې موږ پرې ورپسې دویم مهال د درک وړ کوو. په لومړۍ بېلګه کې روژه، په دویمه بېلګه کې ژمی او په درېیمه بېلګه کې بدې ورځې دي، چې موږ یې په مټ اختر، پسرلی او ښې ورځې د درک وړ کړې دي .

د لیدنځي ټاکنه په اصل کـــې یوه مکاني ځانګړنه ده (لنګکر، ۲۰۰۸) مثلا موږ چې کله وایو: "تر تلوېزیون شاته ریموټ پروت دی" یا "پلار ته مخامخ ناست وم"؛ نو په لومړۍ بېلګه کې لیدنځی یا د لیدو ټکی تلویزیون او په دویمه کې پخپله ویناوال دی چې موږ د مهال په اړه هم له همدې مکاني بېلګو نه په استفاده خبرې کوو.

> پښتو بېلګې یـــې د "مخکې" او "وروسته" مکاني قیدونه دي، چې د مهال لپاره هم کارېږي او یوازې دا نه، تقریبا ټول مکاني توکي دا دنده ترسره کوي. "مخکې" او "وروسته" دواړه د راتلونکې او ماضي لپاره کارېږي، کله چې وایم، "مخکې زرین راغلی و" یا "وروسته راشه"؛ نو د ویناوال مخه ماضي او شا راتلونکې ته ده؛ خو کله چې وایم، مخکې اختر دی؛ نو برعکس مخه یې راتلونکې او شا یې ماضي ته ده؛ خو د لومړي مورد کارونـه ډېره ده.

نورې بېلګې یې په پښتو کې د "مخکې" او "وروسته" مکاني قیدونه دي، چې د مهال لپاره هم کارېږي او یوازې دا نه، تقریبا تـــول مکاني توکي دا دنده ترسره کوي. "مخکې" او "وروسته" دواړه د راتلونکې او ماضي لــپاره کارېږي، مثلا کلـــه چې وایم، "مخکې زرین راغلی و" یا "وروسته راشه"؛ نـــو د ویناوال مخه ماضي او شا راتلونکې ته ده؛ خو کلـــه چې وایم، مخکې اختر دی؛ نو برعکس مخه یې راتلونکې او شا یـــې ماضي ته ده؛ خو د لومړي مورد کارونـــــه ډېره ده. همدا لامل دی، چې کوچنیان د ژبـــې په زده کړه کې دا غلطوي او مثلا وایي: "وروسته مې ډوډۍ وخوړه"؛ خـــو مطلب یې دا وي، چې "مخکې مې ډوډۍ وخوړه ."

په ټوله کې په ژبه کې مهال په درې ډوله وړاندې کېږي: د خپوروالي او راټولوالي پـــــه بڼه، د شېبې په بڼه، پرله پسې (مهند، ۱۳۹۰، ۱۳).

یو؛ د شېبې په بڼه راټول وي، لــکه: "اختر دی، راځه" په دې بېلګه کـــې اختر د یوه راټول څیز په بڼه وینو، چې د "ول" د وجودی بهیر پـــه مټ ښودل شوی. وجودي فعل په چارواله ژبپوهنه کې د یوه څیز شتون ښيي.

دوه؛ خپور: "د شلمې پېړۍ په اوږدو کـــې" په دې بېلګه کې مهال پراخه انځور شوی دی.

درې؛ په پرله پسې ډول: په شپې پسې سهار وي: په دې بېلګه کې وینو، چې مهال پرله پسې راغلی. د دې ډول نورې بېلګې ساعتونه، وختونه، ورځې، اوونۍ، میاشتې، کلونه، پېړۍ او زریزې دي چې پـه یو بل پسې راځي.

د مهال پـــــه اړه دا تصور چې په مفهومي استعاره کې وړاندې کېږي، ادبیاتو تـــه هم ورغځېږي. په ادبیاتو کې مهال کله د سرو زرو لـه ورکې طلا سره تشبیه شي یا لکه کاروان صاحب چې وایي، چې "وخت به راځي چې غاښ د زهرو په ښامار نه لري" یا لکه حمزه صاحب چې وایي:

> عشق دی لکه وخت اوسه حمزه پکې
> تـــل وي په تګ بېرته په شا نه راځي

په دې بېلګو کـــې وینو، چې وخت د "تلل" د فعل په مفهومي استعاره کې وړاندې شوی او "تلل" د یوه څیز صفت دی. دا مو دې پایلې تـــه رسوي چې د شاعرۍ په ګډون ادبیات هم په اصل کې د مهال پـــه اړه همغه ژبنی درک لري چې په عادي ژبه کې دی چې یـــا د څیز په بڼه وي یا د مکان ؛ خـــو ممکن شاعران ورته استعارې نوې کړي، ممکن لـــه ځنګل سره یې ورته وبولي یا یې سفر او منزل وبولي. دې پروسې ته پراختیا وایي؛ نو شاعر د نوي ادبي استعارو په لباس کې د مهال همغه د څیز یا مکان مفهوم وړاندې کوي، چې موږ یې په ژبه کې لرو.

### مأخذونه

۱ . مهند، محمد راسخ. در امـــــدی بر زبان شناسی شناختی (نظریه هـــــا و مفاهیم). چاپ دوم. مرکز تحقیق و توسعهٔ علوم انسانی: تهران.۱۳۹۰ل.

۲ . مهند، محمد راسخ. مکاتب زبـــان شناسی. نشر آګه: تهران:.۱۳۹۸ل.

۳. Johnson, Mark. The Body in the Mind: The Bodily Basis of Meaning Imagination and Reason. Chicago UP: Chicago. 1987.

۴. Lakoff, G. & Johnson, M. Metaphors We Live. University of Chicago Press: Chicago. 1980.

۵. Langacker, Ronald W. Cognitive Grammar: A Basic introduction. Oxford University Press: Oxford. 2008.

## د ویرنې تاریخي شالید او...

> کلِّ اجـتماعٍ مـنِ خــــلیلین فرقـة
> وکـلُّ الـذي دونَ الـــفـراقِ قلیلُ
> وإن افـتقـادي فـاطماً بـعد أحمد
> دلــیـلٌ عـلـى ألا یـــدومَ خلیلُ[۴]

علـــي بن ابی طالب رضی الله عنه د (۴۰ هـ) د روژې په میاشت کې د ابن ملجم مرادي په لاس د کوفې په یوه جومات کې شهید شو، خلکو د نوموړي قاتل یادونه وکړه او ډېرې ویرنې یې وبوللې او په هغه پېر کې له ویرنو یوه ویرنه د ابولاسود رؤلي وه چې ویې بولله:

> قَتَلتُم خَیرَ مَن رَکِبَ المَطَایــــا
> وَخَیَّسَها وَمَن رَکِبَ السَفینــــا
> و من لبس النعال و من حذاها
> و من قراء المثانی و المبینــــا
> اذا استقبلت وجــه ابی حسین
> رایت النور فوق الـــــناظرینا
> لَقَد عَلِمَت قُرَیشٌ حَیثُ کـــانَت
> بِأَنَّكَ خَیرُهُم حَسَباً ودینــــــا

په عربي او دري ادبیاتو کـــــې ویرنه د خلکو د مړینې او انګولاوو تر څنګ د دولتونو د نسکورېدو او زوالتوب پـــه اړه هم راغلې ده، علي بن محمد مدائینی راوړي دي چې منصور ویلي دي: ((لــــه یوه ړانده سره د شام په لاره یو ځای شوم چې د مروان څنګ تـه ورته، خپل شعر چې د مروان ابن محمد پـــه اړه یې ویلی؛ ده ته واوروي، ما له هغه وغوښتل چې خپل شعر ماته واوروي)).

د یاد شعر آره منځپانګه پـه دې ډول وه: ((اخ!! کاشکې!! له شعره مې د مښکو بوی راختی، له کوم وخته چې بني امیه او مشران یې "عبدشمس" له "حنیف" نه تللي دي؛ اوس په هغې ځای کـــې انسان نه وینم، د منبرونو دغه ویناوال دې سپورو غونډې تېز شي او ویناوې دې واوروي چې غلي چوپ یـــا همداسې پاتې نه شي، کله چې وینا کوي؛ زیانمن دې نه شي او کــــه وینا کوي چې ربښتینې وکوي او ناوړه و نـــــه وایي، کله چې د هوښیارۍ لار ونیسي؛ نو خبرې دې د ستورو په شان وځلېږي)).

منصور وایي: ((کله چې ده خپل شعر پـــای ته رساوه؛ زه پـــــوه شوم چې لید مې کمېده، نوموړی د خوړې وینا خاوند او خوښ ناستی انسان و، له دې وروسته په۱۴۱ هجري کې حج ته لاړم او په دغو ګرمو ورځو په شګلنه کې لـــه سپرلۍ راکوز شوم او د نظر کومه ژمنه چې مو درلوده؛ ټول پلي روان شو، ناڅاپه لـه هغه ړوند سره مخ شوم؛ نو خپلو تـــــه مې نغوته وکړه چې وروسته شي، هغوی هم شا ته شول او زه ړانده ته نږدې شوم او د ده لاس مې ونیوه او سلام مې ورته وکړ)).

ویې ویل: ((خدای دې ما له تا ځار کړي، ته څوک یې چې پېژنم دې هم نه)).

ومې ویل: ((زه یم کنه! په هغو ورځو کې چې د شام په لاره کله چې ته د مروان لیدو ته ورتلې؛ د لارې ملګری دې وم)).

ماته یې سلام واچوه او هـــی، اخ یې وکښه او خپل شعر چې منځپانګه یې پـــه دې ډول وه؛ واوروه: ((د بني امیه ښځې کونډې شوې او لونې یـــې یتیمانې شوې، بخت یې خوار او ستوري یې راپرېوتل ستوري هغه مهال راپرېوځي چې طالع ویدې شوې وي، منبرونه او تختونه له دوی تش شول او تر مرګه مې دې په دوی درودونه وي[۵])).

> آمت نساء بني أمية منهـــــم
> وبناتهم بمضيعة أيتـــــامِ
> نامت جدودهم وأسقط نجمهم
> والنجم يسقط، والجدود نيـامُ
> خلت المنابر والأسرة منهـــم
> فعليهم حتى الممات ســلام[٦]

چې وروسته د عباسیانو دولت په (٦۷۵ هـ ق، ۱۲۵۸ ز) کې د هلاکو په لاس رانسکور شو[۷].

په دې تړاو شېخ سعدي شیرازي دغه ویرنه بوللې ده[۸]:

> آسمان را حق بود گــــــــر خون ببار و بر زمین
> بر زوال مـــــــلک مستعصم امیرالمؤمنین
> ای محمد گر قیامت می براری سر ز خــــاک
> سر بر اور و این قیامت در میان خلق ببـــین
> زینهار از دور گیتی و انقلاب روزگـــــار
> در خیال کس نیامد کانچنان گردد چنیـــن
> دیده برداری که دیدی شوکت باب الـــحرم
> قیصران روم سر بر خاک و خاقان چـــین
> خون فرزندان مصطفی شــــــد ریخته
> هم برای خاک که سلطانان نـــهادندی جبین
> بعد از این اسایش از دنیا نشاید چشم داشت
> قیرد را نگشتری باید چو بـــــرخیزد نگین
> دجله خونابست زین پس گرنهد سر در نشیب
> خاک نخلستان بطحا را کند در خـــون عمجین
> روی دریا درهم آمد زین حــــدیث هولناک
> میتوان داشت بر رویش ز مـــوج افتاده چین
> گریه بیهوده ست و بی حاصل بود شستن باب
> آدمی را حسرت از دل و اسپ را داغ از سرین
> نوحه لایق نیست بر خاک شهیدان زانکه هست
> کمترین دولت ایشان را بهشت بـــــرترین
> لیکن آرزوی مسلمانی و کـــــوی مرحمت
> مهربان را دل بسوزد بر فــــــراق نازنین
> باش تا فردا که بینــــــــی روز داد در ستخیز
> و ز لحد با زخم خون آلــــــود برخیزد دقین[۹]

کمال الدین اسماعیل اصفهاني په خپلو سترګو د مغولو ټولوژنه په (٦۳۳هـ، ۳۵- ۱۲۳۴ ز) په اصفهان کې لیدلې او دا ټولوژنه د ځینو مذهبي اختلافاتو لـــکه حنفیان او شافعیان چې پـــــه اصفهان کې وو، د مغولو سرتېرو شافعي او حنفي دواړه له مخې ووژل او یاد ښار چې تر دغې نېټې لـــــه دغه خونړي قومه پټ پاتې شوی و؛ له خاورو سره خاورې کړ، کمال په دې اړه داسې وویل:

> کس نیست کـه تا بر وطن خود گرید
> بـــــــر حال تباه مردم بد گرید
> وی بر ســـــر مرده ای دو شیون بود
> امروز یکی نیـــست که بر صد گرید[۱۰]

او پـه خپله په وروستي کال؛ یعنې په (٦۳۵ هـ) د همدغو مغولو د لاسه ووژل شو[۱۱]. شېخ جمال الدین د محمود شـاه زوی چې وړتیا او پوه یې لرله؛ حسین پیر او ملک اشرف چوپان په (۷۴۲ هـ،۱۳۴۱ز) کـې له شیرازه بهر کړ د فارس حکومت یې پخپلې ولکه کې راوست، ابو اسحاق د عدل او ورکړې خاوند و او د شیراز څنډو ته نږدې پاتې شو چې نوموړي ښه ادبي ذوق او برخه درلوده[۱۲].

عبید زاکاني او حافظ شیرازي دواړه د ده هممهالي دي، د اینجو دولت او د ده وژنه د (شیراز سعادت) په ډګر کې په (۷۵۸هـ، ۱۳۷۵ز)، د جمادي الاول په ۲۱مـــه د امیر مبارزالدین محمد مظفري په لاس وپاشل شول. دا پېښه ډېره غمجنه وه چې عبید زاکاني پرې وژړل او ویې ویل:

> سلطان جهان بخش جهاندار امیر شـــیخ
> کاوازهٔ سخاوت و جودش جهان گـــرفت
> شاهی چو کیقباد و چو افراسیاب گـــرد
> کشور چو شاه سنجر شان ارد و ان گرفت
> بنگر که روزگار چه مضوبه ای نـــمود
> نکبت چو گوشه دولت او را عیان گـــرفت
> بیچاره آدمی که ندارد به هیچ خیــــال
> نی بر ستاره دست و نه بر آسمان گـرفت

او حافظ شیرازي دا غزل د دغې پېښې په ویر کې وواېه:

> یاد باد آنکه سبزکوی تو ام منزل بـــــود
> دیده را روشنی از خاک درت حاصل بــــود
> راست چون سوسن و گل از اثر صحبـــت پاک
> بر زبان بود مرا آنچه تو را در دل بــــــود
> دل چو از پیر خرد نقل معانی می کــــــرد
> عشق می گفت به شرح آنچه برو مشکل بود
> اه از آن جور تطاول که درین دامگه اســـت
> اه از آن سوز و تباری که در آن محفل بـــود
> در دلم بود که بی دوست نه باشم هرگـــــز
> چه توان کرد که سعی من و دل باطل بـــود

> دوش بر یاد حریفان به خرابات شــــدم
> خم می دیدم خون در دل و پا در گل بود
> پس بگشتم که پرسم سبب درد فــــراق
> مفتی عقل درین مسئله لا یعقل بـــود
> راستی خاتم فیروزهٔ بو اسحاقــــــــی
> خوش درخشید ولی دولت مستعجل بود
> دیدی آن قهقهه کبک خرامان حـــــافظ
> که ز سر پنجه شاهین غافل بـــــود[۱۳]

★: بولله د شعر یو ځانګړی فورم دی چې یو وزن، قافیه یا ردیف لري. په یوه موضوع تر اخره څرخي. د پاچاهانو په ستاینو، غم، ویر، نمانځنو، سوبو، ګیلو، ویاړنو... کې تـــر اخره بولل شوې وي. ځینې وخت د ویرنې په شکل یو چا ته د درنښت په موخه ویل شوې وي چې پکې اخلاقي، ټولنیز او عـــرفاني مسایل رانغښتې وي او یا ورته مثالونه پکې پیپل شوي وي. د بیتونو شمېر یې منځوی دی، له شپاړس نیولې تر شل او له شل نیولې تر اویا، زیات یې له پنځوس نیولې تر سل ویل شوی دی. ځینو له شپاړلس تر شل بیتونو ځانګړې کړې؛ په پښتو کې یې لرغونې بېلګه د شیخ اسعد سوري ده. دغه بولله یې د غور پاچا په ویر او غم کې بوللې ده، دا یې د سر بند دی:

> د فلک له چارو څه وکړم کوکار
> زمولوي هر ګل چې خاندي په بهار

### مأخذونه

۱ . همای، جلال الدین. ادبـــي صنعتونه، د علي اکبر علمي چاپ، تهران: ۱۳۳۹ ل، ۱٦۸ مخ.

۲ . سکینه، رام بابـــو. تاریخ ادب اردو، ژباړن: میرزا محمد عسکري، کرشن نګرلاهور: ، ۳۱۹ مخ.

۳ . زیدان، جرجي. تـــــاریخ ادب اللغةالعربیه،اول ټوک، دارالهلال: ۱۹۵۷ز، ۱٦٦ او ۱٦۷مخونه.

۴ . ابوالحسن علي بــــن الحسین المسعودي. مروج الذهب و معادن الجواهر، دویمه برخه، قاهره، ۱۸۵مخ.

۵ . همدا اثر، ژباړن: ابوالقاسم، تهران: ۱۳۴۷ل، ۲۸٦ مخ.

٦ . پورتنی اثر، دویم ټوک، ۲۱۰ مخ.

۷ . بوسورث، کاسیفر دادمند. اسلامي کورنۍ،۱۹٦۷ز، ۸ مخ.

۸ . د شیخ سعدي شیرازي د دیوان، د مظاهر مصطفی په زیار، تهران: ۱۳۴۰ل، ۷۵۴ مخ.

۹ . املي پرتوي، مهدي. مثال او حکم، تهران: ۱۳۵۳ل، ۸۸ مخ.

۱۰ . صفا، زبیح الله. پـه ایران کې د ادبیاتو تاریخ، تهران: ۱۳۴۷ ل، ۸۷۳ مخ.

۱۱ . شفق، رضا زاده. د ایران د ادبیاتو تـــاریخ، تهران: ۱۳۴۲ ل، ۳۲۹ مخ.

۱۲ . شاملوي، حبیب الله. د ایران تاریخ لـــه ماد نه تر پهلوي، تهران: ۱۳۴۷ل، ۵۳۱ مخ.

۱۳ . د خواجه شمس الدین محمد حافظ شیرازي دیـوان، د محمدعلي په زیار، افسټ چاپ، تهران: ۱۳۹ مخ.

(پاتې برخه بله ګڼه کې)

## پښتو ژبه او ادب...

خوا و شا روښانه ساتلې. د دې قوم روحانيونو، عالمانو او پوهانو د هند په لويه وچه کې د تهذيب او شايستگۍ زړي وکرل. د تاريخ په بېلابېلو پړاوونو کې د روه له ولايت څخه هند ته وکوچېدل. په ټول هند کې خواره واره شول او په همدې سيمو کې د تل لپاره ميشت شول. دلته يې د اسلامي تمدن بنسټ کېښود او د دې ځای اوسيدونکو ته يې د اسلامي ټولنې اصول ور زده کړل(۳). د ټولې اسلامي نړۍ په ملتونو او قومونو کې پښتون يوازينی قام دی چې تر ټولو لومړی يې د لاربښوونې له لارې د اسلام دين ته غاړه کېښوده او تر هغې ورځې وروسته چې دوی د اسلام په دين مشرف شوي دي. اوس چې پښتون هر چېرې اوسيږي، نو هرو مرو به مسلمان هم وي، ځکه چې پرته له اسلام څخه پښتون، پښتون کيدلای نشي.

ستونزمنه به وي که داسې غوره بېلگې او امتيازي چارې د نړۍ په نورو قومونو کې وليدل شي. که څوک د پښتون رښتينی تعريف وکړي، نو جوته به شي، چې هر پښتون په دې خبره پوره باور او ايمان لري، چې د پښتون ټولنيز ژوند له اسلامي اقدارو او له اسلامي اخلاقو سره تړلی دی، د همدې له امله د پښتنو په اصطلاح اسلام د پښتو دويم نوم دی(۴).

> ستونزمنه به وي که داسې غوره بېلگې او امتيازي چارې د نړۍ په نورو قومونو کې وليدل شي. که څوک د پښتون رښتينی تعريف وکړي، جوته به شي چې هر پښتون په دې خبره پوره باور او ايمان لري، چې د پښتون ټولنيز ژوند له اسلامي اقدارو او له اسلامي اخلاقو سره تړلی دی، د همدې له امله د پښتنو په اصطلاح اسلام د پښتو دويم نوم دی(۴).

د افغانستان يوه نوميالي څېړونکي او ليکوال محمد امين خوگياڼي په يوه ځای کې ليکلي(۵) پښتون دومره ډېره پراخه حوصله او زغم لري چې خپل پېټی خو پر خپلو اوږو وړي خو د نورو بار او پېټی هم په خوښۍ او خوشحالۍ پورته کوي او دا متل خو زښت ډېر مشهور دی، چې پښتون سپک پيټی نه اوچتوي او که څوک پرې خپل پېټی هم بار کړي، نو دوی د دې تيري هېڅ پرواه نه کوي او وايي د اوښ پر ملا که لړ نور بار هم کېښودل شي، نو هېڅ خبره نه ده. د دوی په خټه او فطرت کې د سرښندنې جذبه دومره پراخه ده، چې خپله خو په زېره او شدله شړۍ کې شپې ورځې تېروي خو د نورو لپاره د ورېښمو د لباس هيله لري(٦). همدې جذبې او احساساتو په پښتو شاعرۍ کې هم ژور ځای نيولی دی، لکه د پښتو په دې لنډۍ کې چې وايي:

> که مې زېړه شړۍ پر سر ده
> جانانه تا به په بخملو کې ساتمه(۷)

خپله خو په ليمڅي يا په پوزي ناسته پاسته کوي خو قالينې او غالۍ نورو ته پرېښودل خپله سرلوړي گڼي(۸).

په دې اړه د روه ټوله پراخه سيمه د پښتونخوا ټولې سيمې د بلوچستان ځينې او د افغانستان له اکثرو سيمو څخه پرته د بېلگې په توگه يوازې د اپريديو غرنيزو سيمې ته پام وکړئ، دوی خو خپله د لوښو په څپليو او د خامتا په جامو کې شپې ورځې تېروي، خو د هندوانو د سرو او سپينو زرو مسئوليت په خوښۍ پر خپله غاړه اخلي.

هېښونکې خبره دا ده، چې د پښتو ادب له مدنيت او د ژبې له دومره ډېرو ښيگڼو څخه نن ورځ ډېر لږ وگړي خبر دي(۹). پردي خو پرېږده، خپله هغه پښتانه چې څو پښته وړاندې له خپل ټاټوبې روه څخه بهر کډوال او ميشت شوي دي، خپل پښت او شجرې يې بلکل له ياده وکښلي او دوی هم لکه د پردو او نورو ناخبرو وگړو په څېر خپلو مشرانو ته په سپکه سترگه گوري، ريشخند او ملنډې ورپورې وهي او خپل مشران د جاهلانو په نامه يادوي. ځينې يې وحشي او وينې زبېښونکی او ځينې نور يې له تهذيبه لرې گڼي.

له دې پرته د متعصبه گاونډيانو په لوبو، ډرامو او افسانو کې د پښتنو کردار د ملنډو علامت او نښه گڼل کېږي او په هره موقع د دوی په تهذيب او ټولنيز ژوند ملنډې وهل کېږي. د دی يو لامل خو دا کيدای شي، چې هندوانو د تل لپاره دا خبره مشهوره کړې او خپل اولادونه تل په هم دې ډاروي چې چوپ او غلی شه، که نه پټهان راځی خو له بده مرغه بيا به همدا پټهان ټوله شپه د دوی په څوکيدارۍ روڼوي. د مغلو(۱۰) او پښتنو ترمنځ څو پيړۍ ترينگلو سياسي اړيکو او مخالفتونو کلونه کلونه پښتانه د بدنامۍ کندو ته ټيل وهل، ځکه چې قلم او څواک د مغلو په لاس کې و او څومره چې يې په وس کې پوره وه، د پښتنو له بدنامولو يې دريغ نه کاوه. د مغلو د پېر په ډېری درباري ليکنو کې د پښتنو په اړه ناسم او ناوړه الفاظ کاريدلي دي(۱۱) او دوی د پښتنو د اصل او نسب په اړه له ځانه داسې افسانې او کيسې جوړې کړي او د کتابونو ډېرې پاڼې يې پرې تورې کړي چې د منطق او استدلال له مخې يې په منلو او باور کولو انساني سليم عقل ټکنی کېږي او د تامل وړه حالت غوره کوي.

تر مغلو وروسته د پښتنو د بدنامولو چارې د انگريزانو حکومت په خپل واک کې واخيستې. د دوی د امپراطورۍ په موده کې د هند له لويې وچې څخه د پښتنو پخوانۍ اړيکې په ښکاره ډول له منځه يوړل شوې. د پښتنو په خپل منځ کې يې د بېلتون، نفاق او د بدبينۍ ژوره کرښه راکاږله او په خپل منځ کې يې داسې سره وويشل او پردي يې کړل، چې يو له بل سره بلکل نا اشنا شول. د منځنۍ اسيا د هيوادونو د شمالي هند او د دکن د پراخو سيمو ترمنځ چې له پېړيو، پېړيو را پدېخوا سوداگريزو چارو دوام درلود (۱۲). همدا لاره وه چې د پښتنو سوداگرو اړيکې د مرکزي اسيا له هېوادونو سره ټينگې او رغېدلې وې، دا هم د انگريزانو د لاس وهنو د سياسي او سوداگري گټو قرباني شوې او ورو ورو له منځه ولاړې. د لوحانيانو، غلجيو او سړبنيو(۱۳) سوداگرو چې په تېرو وختونو کې يې له يوه لورې له سمرقند، بخارا، خوقند، خيوې، ختن، بخارا، بدخشان، مروې، تاشقند او د منځنۍ اسيا نورو هېوادونو سوداگريزو مرکزونو ته تگ راتگ کاوه او له بل لورې يې د شکارپور، ملتان، لاهور، ډيلي، اگرې، گولگنډ، بيجاپور، بنگال او له نورو سيمو سره ټينگې سوداگريزې اړيکې درلودې، له دې سوداگريزو چارو څخه لاس په سر شول. د دې چارو ناوړه پايلې دا شوې، چې يو خوا پښتانه قبايل له اقتصادي او مالي ستونزو سره لاس او گريوان شول او بل خوا انگريزانو دوی له سختو سياسي بنديزونو سره مخ کړل او هم يې د دوې له ټاټوبې څخه بهر د دوی د بدنامولو لپاره متې راونغښتې. د شلمې پېړۍ په مسلمانو مفکرينو کې زما په اند يوازې اقبال لاهوري و، چې دا حقيقت يې په ښه ډول درک کړ او ويې ويل:

> آن جوان کو سلطنتها آفريد
> باز درکوه وقفار خود رميد

خو دوی په خپله خوښه نه غوښتل چې په دې دنگو غرونو کې بند پاتې شي، بلکې دې ټولو چارو د هغو سياسي بدلونونو سره تړاو درلود، چې د شمال له لورې د روسانو او د جنوب له لورې د انگريزانو د نيواک گرو له لورې رامنځته شوی وو(۱۴).

که له يوې لورې په پښتنو ورځ په ورځ کړۍ تنگېده او دا لړۍ همداسې روانه وه، خو بل پلوه مجاهدو او آزادي غوښتونکو پښتنو د دې نيواکگرو د پرمختگ پر وړاندې خپلې سينې د دوی توپونو ته سپر کړې وې او په خپله خاوره کې ځای پر ځای له دوی سره په نښتو کې ښکيل وو. له امبېلې نيولې تر خيبر، ملاکنډ، باجوړ، مومندو، تيراه، بونېر، جنوبي او شمالي وزيرستان د پښتنو مېړنيو ځوانانو د خپل هيواد د ناموس او د اسلام د سرلوړاوي لپاره له دښمنانو سره د جگړو په تودو ډگرونو کې ځانونه بوخت ساتلي وو. تر دې چې د افغان او انگليس په درېوارو جگړو کې دې مېړنيو او سرښندونکو ځوانانو د انگريزانو لوی او نه ماتيدونکی ځواک په گونډو کړ، او يو ځل بيا يې ټولې نړۍ ته خپله مېړانه او زړورتيا په ډاگه کړه او د خپلې آزادۍ غوښتونکې روحيه او له اسلام سره بې کچه مينه يې په اثبات ورسوله چې د پښتنو خاورې اوسنې حالات تر ډېره د دې شاليد ښه ښکارندوی دی.

سره له دې چې شلمه پېړۍ د نوو څېړنو او پرمختگونو پېړۍ ده، خو بيا هم د گڼو ويبپانگو(۱۵) په کتابونو کې د پښتون قام له دوو سياسې نومونو (يعني) د پټهان او افغان معنا ظالم، تېري کوونکی، جلاد، وينې زبېښونکی، جگړه مار او د جاهل په نومونو نړۍ ته معرفي شوی دی (۱٦). تر دې پرته د پټهان په تعريف کې خو ليکل شوي دي چې کينه او نفرت د دوی په خټه او فطرت کې اغږل شوې دی، تر دې چې داسې بې بنسټه کيسې يې ورپورې تړلي دي چې د دې کيسو د اوريدو له امله د نورو قومونو په ذهنونو کې د پښتنو پرخلاف کرکې او بدبينيو ژور ځای نيولی دی، لکه دا متل:

پټهان کا پوت گاهے ولي گاهے بهوت(۱۷) او بيا د دې په تشريح کې ليکل شوي چې د پټهان په ملگرتيا بايد باور و نه کړای شي. د پښتو ژبې لوی څېړونکي سيد انوارالحق يو ځای ليکلي دي چې يوه ښاغلي د پټهان په تشريح کې ليکلي دي چې په افغانستان کې د ميشتو مسلمانانو څخه په څلورو قومونو کې يو پټهان دی(۱۸). ليکونکي چې د دې لغت په اړه کوم مأخذ وړاندې کړی دا په (۱۹٦۲م) کې چاپ او خپور شوی دی، دا هغه کتاب دی چې په دې کې د ټولې شمالي مغربي سرحدي صوبې (اوسنۍ خيبر پښتونخوا) پر پښتنو او د بلوچستان په ولايت کې پر ميشتو کابو پنځلس ميلونو پښتنو(۱۹) د چلپا کرښه راکښل شوې ده. د همدې حقايقو په ليدو يوه انگليسي ليکوال په دې اړه داسې زړه راښکونکې څرگندونې کړې دي، له بدمرغه د پښتنو سيرت له نيمې پېړۍ را پدېخوا د متعصبو ليکوالو له لورې ټوک ټوک شو او د زړه له اخلاصه يې پر دوی د غدار، تيري کوونکي او خونخوار ټاپې ولگولې او پښتون يې په نوې بڼه نړۍ ته د وحشي او خونکار په توگه وپېژانده.

اوسنې ټول ليکوال په دې چارو د تعجب له څرگندونو پرته چوپ نشي پاتې کيدلای چې پښتون خو ځان ته تل پښتون ويلي خو د مغلو او انگريزانو په دولتي او درباري ژبو کې دوی ته افغان ويل شوي او د هندوستان د لويې وچې اوسيدونکي دوی د پټهان په نامه ياد کړي دي، داسې ولې شوي دي؟ دا پوښتنه د تاريخ او د سياسي چارو زده کوونکو لپاره نوې پوښتنې راپورته کوي.

د تاريخ او سياست دې ناوړه کړنو د پښتنو پښت د ټولې نړۍ د اوسيدونکو لپاره او خپله د پښتنو لپاره هم د جنگ و جدل يوه وسيله گرځولې ده، خو د دې ساهو قام هغه ټول جمالياتي او روحاني اوصاف چې د دوی په فطرت او خټه کې اغږل شوی دي، د پښو لاندې شوي، نه خو په پښتنو کې د ښکلا او د اورنۍ مينې کمښت شته او نه يې په غزلو کې د مينې او محبت او د تغزل کومه پوله. د دوی جذبې او احساسات او د دوی په کلام کې رنگينی او له خوږلت څخه ډکې غزلې د فارسي د غزل بولو شاعرانو له غزلونو سره په يوه کتار کې درېږي. د پښتنو په فطرت کې شاعري ژور ځای نيولی. دوی د گډا، اتڼ، سروکو او د ټنگ ټکور زښت ډېر مينه وال دي. د دوی په کردار کې سرښندنې، په خپلو ژمنو وفا کول، عزت نفس او په خپل ننگ او ناموس ټينگ درېدل لکه د اتوم په څېر شتون لري. دوی ميلمه پالونکي، تواضع خوښوونکي، په خپلو ژمنو ټينگ درېدونکي او له خپلې ټولې خاکسارۍ سره سره ډېر مېړني، سرښندونکي د ننگ په وخت کې له خپله سره تېريدونکي او زړور دي.

تر ټولو لويه ښيگڼه يې دا ده چې ازادي خوښوونکي هم دي. د تاريخ پاڼو ته ښه ځير شئ، په ټول تاريخ کې د ټولې نړۍ له ظالم نه ظالم اشخاص او يا امپراطوران نه دي توانيدلي چې د دوی ازادي وځپي.که څه هم د تاريخ په هر پړاو کې دوی له بهرنيو يرغلگرو سره په جگړو کې ښکيل شوي دي، که نيواکگرو له دوی سره پنجې نه دې نرمې کړي، نو دوی هم پرې کار نه دی لرلی خو که هرڅوک په دوی بلوسيدلي دي او غوښتې يې دي چې د دوی ازادي تر پښو لاندې کړي، نو دوی د هغوی په لار کې لکه د ققفاز د غرونو په څېر کلک دريدلي دي او هغوی ته يې اجازه نه ده ورکړې،چې پر دوی خپله ولکه ټينگه کړي.

### مأخذونه او څرگندونې

۱.لاهوري، محمد اقبال. جاويد نامه، ۲۰٦ مخ.
۲. د خوشحال خان خټک لانديني بيتونو ته اشاره ده:
د بهلول او د شير شاه خبرې اورم
چې په هند کې پښتانه وو بادشاهان
شپږ، اووه پېړۍ يې هسې بادشاهي وه
چې درست خلک وو په دوی پورې حيران
۳.کله چې پښتانه له خپلو سيمو څخه په سياحت يا د لښکرو کښيو پر مهال هند ته کوچېدل، نو له دوی څخه به زياتره د راتلونکي لپاره په هند کې ميشت شول، دوه پښته وروسته به يې خپله ژبه د هيرې تل ته ښکته شوه او د هغې سيمې ځايي ژبې به يې خپلې کړې، خو بيا به هم دوی په خپل نسل او پښت سرلوړي او افتخار کاوه او په يوه نه يوه ډول يې خپله پښتو ژوندۍ ساتله، نو په همدې ډول به يو بېل توکم رامنځته کيده، بلکې د هندوستان د دود او دستور له مخې يو ځانگړی ذات جوړيده، همدا پښتانه وو چې د پټهان په نامه يې شهرت ترلاسه کړ، د لا ډېرو معلوماتو لپاره دې په هند کې د ميشتو پښتنو د سر شمېرنې په تړاو د هند برطانوي حکومت دولتي د لاسوندونو کتاب Pathan ۲۳۲ مخ ته رجوع وشي.
۴.د (افغان مجلې) مقاله پښتو اکاډمي پېښور ۱۹۸۵م کال د اکتوبر او دسمبر مياشت (۳۴ مخ).
۵.لنډکی پښتو مؤلف محمدگل خان مومند کابل چاپ.
٦. د پښتو فلسفه د مولانا عبدالقادر.
۷. پښتو نظم د سمندر خان سمندر.
۸.پښتنې سندرې (د کابل چاپ).
۹.خلاصة الانساب د حافظ رحمت خان روهيله تأليف (د پښتو اکاډمۍ کتابتون پېښور مايکرو فلم).
۱۰.د بشېر تفصيل لپاره دې د پښتو اکاډمۍ چاپ شوي کتاب (پټهان) د هند او پاکستان د مسلمانانو د ادبياتو تاريخ پښتو سرېزې ته رجوع وشي.
۱۱.ماثر الامراء د گلستان رحمت مؤلف نواب مستجاب خان روهيله.
۱۲.تاريخ فرشته، مأثر عالمگيري، اکبرنامه، تزک جهانگيري، شاه جهان نامه، د ا فغانستان تاريخ د سيد جمال الدين افغاني.
۱۳.تواريخ حافظ رحمت خاني مؤلف پير معظم شاه.
۱۴.د افغانستان تاريخ مؤلف سيد جمال الدين افغاني.
۱۵.يوه امريکايي څېړونکي ويلير په دې اړه داسې ليکلي دي، د قبايلي رواياتو ځمکه چې ټول تاريخ يې له نښتو او رزمونو څخه ډک دی او د هېښنده پيښو، واقعاتو او له روښانه ماضي څخه برخمن دی.
۱٦.جامع اللغات دويم ټوک (۴۰ مخ) د بشپړ تفصيل لپاره دې (پټهان) ته رجوع وشي . د پښتو اکاډمۍ چاپ.
۱۷.نسيم اللغات (۲۰۸ مخ) فيرزواللغات (۲۹۸مخ) او د اردو انسائيکلو پيډيا فيروز سنز (۱۳۲مخ).
۱۸. فرهنگ انندراج (۲۳ مخ).
۱۹. فرهنگ کاروان (۱۴۱مخ).

**(پاتې برخه بله گڼه کې)**

★★★

★★★★

## په پښتني ټولنه د حمد او...

کوي. دغه شاعري د روحاني سکون او ارام سرچينه ده. حمد ټولنيز اغېز هم لري منځپانگيز اړخ يې خورا غني دی او په دې برخه کې شاعرانو ډېره غني شاعري کړې ده. د معاصرې ادبي دورې شاعرانو هم لکه د پښتو د لرغونې او کلاسيکې دورې د شاعرانو په څېر د کايناتو او واړه جهانونو له خالق سره خالصه او مخلصه مينه کړې ده، دغو شاعرانو له پروردگار سره خپله سوځنده مينه د هغه ستر ذات د اسماوو، صفاتو او افعالو په يادولو سره په منظومه بڼه په زبات رسولې ده او له ټولو دنياوي چارو سره مل يې خپل رب په ربوبيت منلی، د هغه لويوالی يې بيان کړی او د هغه ذات د وحدانيت او لوړ شان ښکلا، يگانگي او قدرت يې په ښو او اغېز ښندونکو الفاظو بيان کړی دی. د پښتو ادب شاعرانو د شاعرۍ الفاظ دومره رنگين او اهنگين دي چې يو ځل لوستل يې د انسان د ذهن ټوله محوطه نيسي او حمديه کلامونه يې د ولسي فورمونو اهنگ او موسيقيت تعقيبوي او د ځينې شاعرانو شعرونه ديواني يا عروضي موسيقيت او لاره پالي. د پښتو ادب د شاعرانو د حمديه کلامونو معنوي ښکلا دوه توکه بيانوي، لومړی د لوی او مهربان خدای جل جلاله ثناء او ستاينه او دويم له ستاينې سره مل د پروردگار عالم يکتا پرستي او د هغه عبادت ته د خپلو لوستونکو د رابللو تبليغ دی. دوی په يوه غشي درې ښکاره کوي. په خپلو خوږو حمدونو د خدای تعالی ستاينه کوي، ديني او اخروي لاره هم لوستونکو ته ښيي او هم د لوستونکو د شعر لوستنې ديني او اسلامي تنده ور خړوبوي.

په پښتو ادب کې د حمديه کلامونو پايله دا ده چې دغه نظمونه په لوستونکو کې روحاني او مذهبي تقويه منځته راوړي، يعنې روحاني او مذهبي ارواح ژوندۍ او تقويه کوي او په عامو لوستونکو کې د عقيدې او ايمان زياتوالی راوړي. څرنگه چې حمديه کلامونه او مناجات د ادبياتو په برخه کې ځانگړی ځای لري چې په ويلو سره يې د شاعرانو او ليکوالانو ادبي وړتياوې زياتېږي او په دې ډول زموږ د ادب او فرهنگ د بډاينې لامل گرځي.

همدا رنگه دغه کلامونه لوستونکو ته د انسانيت، اخلاقو او انساني ارزښتونو په اړه درس ورکوي، چې په پايله کې يې ټولنه د يووالي او ورورگلوۍ خوا ته ځي او د خوشحاله ټولنيز ژوند ضمانت کوي. د حمديه کلامونو او مناجات په ويلو او اوريدلو سره، انسانانو ته ذهني ارام او سکون راځي او دا ځکه چې موږ د هغه لوی ذات په عبادت سره ذهني او قلبي سکون ته رسېږو. حمديه کلامونه د يوه هېواد او ملت د ثقافت ساتندوی دي، دا کلامونه د يو ملت د ثقافت او فرهنگ برخې دي او د دوارو په ژغورلو او رغولو کې مهم رول لوبوي. په ټوليزه توگه د حمديه کلامونو په ويلو سره د لوستونکو په روح، ذهن او ټولنه مثبت اغېز پرېوځي، د نفس تزکيه يې کېږي او د خوشحاليو سبب يې گرځي. (پښتون، ۱۴۰۳، ۱۰۹مخ)

په پای کې ويلی شو چې حمد د الهي سوځنده مينې رڼې هينداره دي چې له مناجات او الفنامو نه وړاندې په پښتو معاصره ادبي دوره کې د شاعرانو په شعري کلامونو کې په نظر راځي. که څوک له خپل حقيقي محبوب سره د شته مينې بېلگې غواړي يا د دغو لويو شاعرانو په پله پل ايښودل غواړي نو دغه حمديه شاعري د لوستونکو لپاره پراخه دنياوي، علمي، عرفاني او ادبي تجربې دي او د تجربو تر څنگ دغه حمديه کلامونه لوړه منظومه ديني پانگه ده. دغه حمديه کلامونه کولی شي د لوستونکو د الهي مينې تنده خړوبه کړي. په دغو رڼو هيندارو کې د حق تعالی جلال، جمال، عظمت او دبدبه ووينې او خپل ژوند له هغه لوی شان سره د مينې په ولولو تېر کړي. (پورتنی مأخذ ۱۰۸مخ)

### مأخذونه

۱. افغان، محمد نعيم. د وړانگو امېل، حمدونه او مناجاتونه، صداقت خپرندويه ټولنه: کندهار، ۱۳۹۴ل.
۲. البقاعي، إبراهيم بن عمر بن حسن الرباط بن علي بن أبي بكر. نظم الدرر في تناسب الآيات والسور، الناشر، دار الكتاب الإسلامي: القاهرة، ج:٦.
۳. البيضاوي،الإمام القاضي المفسر ناصر الدين أبو سعيد أو أبو الخير عبد الله بن أبي القاسم عمر بن محمد بن أبي الحسن علي البيضاوي الشيرازي الشافعي. أنوارالتنزيل و أسرار التاويل، الناشر، دار إحياء التراث العربي: بيروت، ۱۴۱۸ هـ.
۴. پښتو- پښتو تشريحي قاموس، د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبياتو مرکز، اوډنه او چاپ: د افغانستان لپاره د ټوليزو رسنيو مرکز (ميديوتيک): کابل،۱۳۸۳ کال.
۵. پښتون، پښتون. د پښتو په معاصره ادبي دوره کې د حمديه شاعرۍ څېړنه (د ۱۴۰۳کال د نوماندۍ د رفع پروژه)، د افغانستان د علومو اکاډمي: کابل، ناچاپ اثر.
٦. د نهم ټولگي پښتو، د پوهنې وزارت، د تعلمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تأليف لوی رياست: کابل، ۱۳۹۸کال.
۷. عميد، حسن. فرهنگ فارسي عميد، مؤسسه انتشارات امير کبير: چاپخانه سپهر: تهران، ۱۳۸۲هـ ش.
۸. خوېشکي، پروېز مهجور. پښتو شاعرۍ کې حمد، را اخيستنه، ۱۷/۴/۱۴۰۴ل، خېراوی، ۲۲۸/۲/۲۰۱۷ م، پښتو ژبه او ادب، www.facebook.com

★★★

★★★★

# زېری

علمي- څېړنيزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جريده

د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

د ۱۴۰۴ ل.کال، د مرغومي مياشتې ۱۹- ۲۰مه ګڼه | پرله پسې ۴۵۷- ۴۵۸ مه ګڼه

**مسئول مدير:** څېړنوال دوکتور محمد اسحق خاورين

**مهتمم:** څېړندوی پښتون پښتون

**کمپوز او ډيزاين:** دوکتور خاورين

**کتنپلاوی:** اکاډميسن څېړنپوه دوکتور سيد محي الدين هاشمي، څېړنوال رحيم الله حريفال، څېړندوی احسان الحق کبير، څېړندوی مطيع الله ساحل

**برېښناليک:** zerai1316@asa.gov.af / zerai1316@gmail.com

● په زېري جريده کې له سرليکنې پرته، د نورو ليکنو سپيناوی په ليکوالو پورې اړه لري.

د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبياتو مرکز
خپرنيز ارګان

**د اړيکې شمېرې:** (780831960) (0) (+93)
(202201279) (0) (+93)

www.asa.gov.af

د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، توره باس خان څلورلارې، نوی ښار کابل- افغانستان

**د يوې ګڼې بيه:** پنځه افغانۍ




# تولنيزه ژبپوهنه (Sociolinguistics)

څېړندوی محمد اتل انګار

انساني ټولنه لــه ژبې پرته نه شي پاتې کېدای. ژبه په يوه ټولنه کې د خيالاتو او افکارو د اظهار بنسټيزه وسيله ده چې د ټولنې له پرمختګ سره ژبه هم وده کوي. د اړتيا له مخې په ټولنه کـــې نوې نوې کلمې جوړېږي، له نورو (پرديو) ژبو څخه هم راخيستل کېږي. ټولنيزه ژبپوهنه د تطبيقي ژبپوهنې هغه څانګه ده چـــې ژبه د ټولنيز ژوند، کلتور، ټولنيزو طبقو، هويت، جنسيت، عمـــر، سيمې او نورو ټولنيزو عواملو لــه نظره څېړي. دا څانګه هڅه کوي چې پر دې پوهه شي چې: ژبه په ټولنه کې څنګه بدلېږي؟ مختلف خلک ولـــې مختلف ډول خبرې کوي؟ او د ژبې کارونه څنګه د ټولنيز هويت ښکارندويي کوي؟ د ټولنيزې ژبپوهنې په اړه ډاکټر اورمړ ليکي:"د ژبپوهنې هغه څانګه ده چې له انساني ټولنې سره د ژبې د لارو چارو يو کېدل په ځانګړې توګه د توکم، توکم پالنې، طبقې، جنسي او ټولنيزو ادارو له مقولو سره په ارتباط کې مطالعه کوي. که په ټولنه کـــې بدلون منځته راځي هم مهاله ورسره په ژبه کې هم تغيرات راځرګندېږي، دا چې ټولنه تل د تحول په حال کې وي، نو ژبه هم چې د ټولنې جز دی په تغير او تحول کې وي." (کابل مجله، ۱۳۹۱: ۲-۱ګڼه، ۹۸ مخ)

ټولنيزه ژبپوهنه ژبه يوازې د يوې انفرادي پېښې په توګه نهويني، بلکې يوه ټولنيزه پديده يې ګڼي څکه خو ښاغلی مرهون يې په اړه ليکي: "ژبه يوه ټولنيزه پديده ده او ټول هغه مسايل چې په ژبه کې مطرح کېږي په مستقيمه يا غير مستقيمه توګه لـــه ټولنې سره اړيکه لري. ټولنيزه ژبپوهنه په شلمه پېړۍ کې ډېره جدي شوه چې د ژبې او اروپوهنيز او ادبي اړخ ته څېړونکي په درنښت قايل شول خو بيا هم تر اوسه پـــه منظمه توګه د ژبپوهنې پر دغه اړخ باندې بحثونه نه دي شوي. له ټولنيزې ژبپوهنې څخه اصلاً مراد دا دی چـــې ژبـــه يواځې دغه جوړښت چې نحوي، ګرامري، غږيز او معـــانيز دی نه ده، بلکې ژبـــه يوه ټولنيزه پديده ده چې د ټولنې زيات ابعاد په بر کې نيسي." (مرهون، ۱۳۹۹: ۱۴۲ مخ)

په ټوله کې ويلای شو چې ټولنيزه ژبپوهنه دا ارزوي چې انسانان ژبه څنګه او ولـــې کاروي، او دا ژبني بدلونونه يا توپيرونه له کومو ټولنيزو عواملو سره تړلي وي. په دې ډګر کـــې لهجې، ټولنيز ډيالکتونه، د جنسيت د خبرو توپير، د عمـــر او د ټولنيز موقف اثرات او د ښار او کلي ژبني توپيرونه څېړل کېږي. يو څوک په دفتر کې رسمي ژبه کاروي، خو په کور کې ساده محاوروي ژبه؛ دا توپيرونه د ژبپوهنـې د ټولنيز اړخ د مطالعې مهمې نښې دي.

"د ټولنيزې ژبپوهنې اصل او بنيادي غرض او مقصد هم په ټولنه کـــې د ژبې د کار او اهميت په حواله دی چې د ژبې او ټولنې تر منځ څه رشته ده؟ ټولنه په ژبې او ژبه په ټولنه څنګه اثـــر انداز کېږي؟ له دې سره سره د دې سوالونو جوابونه هم لټوي چې د ټولنې او سماجي بدلون سره ولې ژبه بدلېږي؟ دغه شان په ټولنه کـــې مختلفې ډلې او وګړي د خپل سماجي حيثيت، جغرافيايي لرېوالي په وجه ولې لـــه يو بل نه ژبه په لږ ډېر بدلون سره وايي؟ سمـــاجي ژبپوهنه د مختلفو جغرافيايي سيمو او د مختلفو طبقو تـــر منځ په ژبه کې د بدلونونو تر منځ مطالعې ته ويلی شي. په مختلفو جغرافيايي سيمو کې د ژبې په مختلفو قسمونو کې د تلفظ فرق هم وي، کله کله دا بدلونونه د يـــوې جغرافيې او په يوه سيمه کې د سماجي فرق او د اقتصادياتو وجې هم کېدای شي لکه د محنت کش او اشرافيه تـــر منځه د ژبې د ويلو فرق يې واضحه فرق دی." (يوسفزی، ۲۰۲۲: ٦٥ مخ)

په ټوله کې ويلای شو چې ټولنيزه ژبپوهنه دا ارزوي چې انسانان ژبه څنګه او ولـــې کاروي، او دا ژبني بدلونونه يا توپيرونه له کومو ټولنيزو عواملو سره تړلي وي. په دې ډګر کـــې لهجې، ټولنيز ډيالکتونه، د جنسيت د خبرو توپير، د عمـــر او د ټولنيز موقف اثرات او د ښار او کلي ژبني توپيرونه څېړل کېږي. يـــو څوک په دفتر کې رسمي ژبه کاروي، خو په کور کـــې ساده محاوروي ژبه؛ دا توپيرونه د ژبپوهنـــې د ټولنيز اړخ د مطالعې مهمې نښې دي. همدا راز که وګورو چې څنګه د يوې طبقې يا سيمې خبرې د بلې سيمې خلکو تـــه درنې، کمزورې، ښارې يا کليوالې ښکارې؛ دا ټول د ټولنيزو برداشتونو ښکارندويي کوي. په همدې ترتيب دا ژبپوهنه دا هم څېړي چې ژبه څنګه د هويت په جوړېدو کـــې رول لري. خلک د خپلې قومي، تاريخي، سيمه ييزې او د مسلکي ډلې د پېژندلو لپاره ځانګړې ژبني عادتونه خپلوي. ځوانانو ته ځينې نوي اصطلاحات د نسل د هـــويت نښه وي او مشران بيا د عنعنوي بڼو په ساتلو ټينګار کـــوي. په دې توګه ژبه د ټولنيزو اړيکو د تنظيم تر څنګ د يووالي او بېلتون د نښه کېدنې وسيله کېږي.

## مأخذونه


۱. اورمړ، خليل الله. ژبپوهنه، کابل مجله (۲-۱ ګڼه)، د افغانستان د علومـــو اکاډمۍ د اطلاعاتو او عامه اړيکو مرکز: کابل، ۱۳۹۱ل.

۲. مرهون، محمود. تـــاريخي ژبپوهنه، جهان دانش خپرندويه ټولنه: کابل، ۱۳۹۹ل.

۳. يوسفزی، سمندر. بنيـــادي ژبپوهنه، اعراف پرنټرز: پېښور، ۲۰۲۲م.


# پر پښتني ټولنه د حمد او مناجاتو اغېز

څېړندوی پښتون پښتون

حمد د الله جل جلاله د جمال او جلال ستاينه ده چـــې شاعرانو لـه خپل خالق سره د بې درېغه مينې له کبله په منظومه بڼه ويلې دی. مناجات هم حمد تـــــه ورته يو موضوعي شعري فورم دی چـــې د شاعر اړيکه په کې د جمال او جلال له خالق سره ټينګېږي او په ډېرې عاجزۍ په کې لـــه هغه خالق نه د يو څه په اړه غوښتنه کوي. حمد او مناجات کـــه په اړيکه کې تر الله تعالی رسېږي؛ نو پـــه خپلو منظومو کې د بېلتون موضوعي کرښې هم لري. حمد پـــه خالص ډول د الله تعالی د ذاتي او فعلي صفاتو ثناء او ستاينه ده. د کايناتو په وسعت کـــې د مهربان خدای تعالی لويي بيانول دي. خـــو مناجات په منظومه او منثوره بڼه له دغه مهربان او عطا کوونکي رب څخه د يو څه غوښتل دي.

حمد د الله تعالی د عظمت، د هـــغه د وحدانيت او د هغه لوی ذات د ثناء او صفاتو د بيانولو منظومه بڼه ده. شاعران د خپل ذاتي او کسبي استعداد پـــه رڼا کـــې د پروردګار د جاه، جلال او جمال کيفيتونه بيـانوي او د خپلې عقيدې تنده پرې ماتوي او هم پرې د اورېدونکو او لوستونکو تنده خړوبوي.

حمد د الله تعالی د عظمت، د هـــغه د وحدانيت او د هغه لوی ذات د ثناء او صفاتو د بيانولو منظومه بڼه ده. شاعران د خپل ذاتي او کسبي استعداد پـــه رڼا کې د پروردګار د جاه، جلال او جمال کيفيتونه بيـــانوي او د خپلې عقيدې تنده پرې ماتوي او هم پرې د اورېدونکو او لوستونکو تنده خړوبوي.

د دې لپاره چـــې موږ د خپلو شاعرانو لوړ ديني تفکر وپلټو، اندروني کيفيتونه يـــې را برسېره کړو او د لوړو اخلاقي درسونو يو عمومي جاج يـــې واخلو نو بايد د شاعرانو حمديه، نعتيه کـــلامونو او مناجاتو ته رجوع وکړو هغه د اسلام د مبارک دين په هنداره کې وشنو او د شاعرانو ديني سپارښتې په ورځني ژوند کې عملي کړو.

ښه بـــه وي چې يو ځل د حمد لغت په ځينو مهمو فرهنګونو او قاموسونو کـــې وپلټو او معناوې يې دلته راوړو: د حمد معنـــا ته يې په فرهنګ فارسی عميد کې ليکلي: "ستودن، ستـايش کردن، شکر کردن، ستايش، سپاس، ثناګويی، شکر، ادای حق". (عميد، ۱۳۸۲، ۵۳۱ مخ)

همدا رنګه پښتو- پښتو تشريحي قاموس کې حمد داسې راپېژني: "حمد (hamd) نر. م. (حمدونه) ستاينه، ثنـــا، صفت، د خدای جل جلاله ستاينه، د حق ادا کـــونـه". (پښتو- پښتو تشريحي قاموس، ۱۳۸۳کال، ۱۱۳۰مخ.)

د حمد معنـا ده صفت او حمد يو داسې صفت او تعريف دی چې يـــوازې د الله تعالی لپاره خاص دی. د دنيا د هـــر شي صفت کـــول د الله تعالی صفت کول دي، څکه چـــې د دنيا په هر شي کـــې چې څه صفت دی، هغه د الله تعالی له اړخه وي. د يو عادل حاکم صفت کول د الله تعالی صفت کـــول دي، د يـــو شي د ښايست صفت کول د الله تعالی د جمال او کمال تعريف کول دي. الله جل جلاله چې کوم څيز پيدا کړ، نـو ښکلی يې پيدا کړ، حمد او مدحه کې فرق شته، په مدحه کـــې د ممدوح د خوبيانو ارادي او اختياري کېدل ضروري نه دي او په حمد کـــې د محمود د خوبيانو او فضيلتونو ارادي اختياري دي.

"په اصطلاح کې په غوره او اختياري کـــار باندې د چا ستاينې ته ويل کېږي، که هغه نعمت وي او که نور څه". ( البضاوي، ۱۴۱۸، ۲۷مخ)

"حمد په لغت کې ثناء او صفت تـــه وايي او په اصطلاح کې هغه منظومه وينا يـــا کلام دی چې د الله جل جلاله ستاينه په کې شوې وي".(د نهم ټولګي پښتو، ۱۳۹۸، ۱مخ).

"حمد په لغت کـــې د تعظيم په موخه ستاينې ته وايي". (البقاعی، بې تا، ۲۱۴مخ)

"حمد عربي کلمـــــه ده چې لفظي ترجمه يې ده ثناء، صفت او ستاينه ده، په اصطلاح کـــې زموږ د سميه ييز شعري دود له مخې هغه شعر تـه ويل کېږي، چې د الله جل جلاله د ذات، صفاتو او بېلابېلو فعلي ځانګړتياوو په ستاينه کې ويل شوی وي". (افغان، ۱۳۹۴، ۱۰ مخ)

"د حمد معـــــنا ده صفت او حمد يو داسې صفت او تعريف دی چې يـــوازې د الله تعالی لپاره خاص دی. د دنيا د هر شي صفت کـــول د الله تعالی صفت کول دي، څکه چې د دنيا په هر شي کـــې چې څه صفت دی، هغه د الله تعالی له اړخه وي. د يو عادل حاکم صفت کول د الله تعالی صفت کـــول دي، د يـــو شي د ښايست صفت کول د الله تعالی د جمال او کمال تعريف کول دي. الله جل جلاله چې کوم څيز پيدا کړ، نـو ښکلی يې پيدا کړ، حمد او مدحه کې فرق شته، په مدحه کې د ممدوح د خوبيانو ارادي او اختياري کېدل ضروري نه دي او په حمد کې د محمود د خوبيانو او فضيلتونو ارادي اختياري دي.

(ثناء) هم يو داسې لفظ دی، چې لـــه حمد سره يو ځای راوړل کېږي، لـــکه حمد و ثناء خـو ثناء د حمد هسې تخصيص نه لري، شکر هم يـوه داسې کلمه دی چې د الله تعالی د يـــو نعمت يا د نعمتونو په بدل کې ادا کېږي. د قران کريم شروع هم له الحمدلله نه شوې ده. حديث شريف کې راځي چې هره اړينه خبره او د هر اړين

حمد د پښتو ادب يوه مهمه برخه ده چې د خپـــلو ټولنيزو او کتلوري اغېزو له مخې خورا ژور اثـــر لري. دغه شاعري ديني، اخلاقي او د ټولنيزو ارزښتونو پـــر بنسټ ولاړه ده. حمديه شاعري د اسلام پـــه پراخ مفهوم کـــې د پېغمبر (ص) ستاينه کوي او د هغه له فضليتونو، کردار او شخصيت سره تړاو لري.

کار شروع چې په حمد و نه شي هغه نيمګړی پاتې کېږي. د حمد تعلق نېغ په نېغه د توحيد لـــه عقيدې سره دی، پښتانه ټول مسلمانان دي او د توحيد عقـــيده د دوی په ژوند کـــې يو مرکزي حيثيت لري. د ټولو اسلامي ژبو په ادب کـــې د الله تعالی حمدونه بيان شوي دي. پښتو شاعري هم د الله د حمدونو نه ښه ډکـــه ده. د هر چاپ او ناچاپ ديوان شروع هم له حمد نه کېږي او د ديوانونو دننه هـــم حمدونه بيان شوي دي". (مهجور خېشکی، ۲۰۱۷، ۱ مخ)

حمد د پښتو ادب يوه مهمه برخه ده چې د خپلو ټولنيزو او کتلوري اغېزو له مخې خورا ژور اثر لري. دغه شاعري ديني، اخلاقي او د ټولنيزو ارزښتونو پر بنسټ ولاړه ده. حمديه شاعري د اسلام پـــه پراخ مفهوم کې د پېغمبر صلی الله عليه وسلم ستاينه کـــوي او د هغه له فضليتونو، کردار او شخصيت سره تړاو لـــري. حمديه شاعري د اخلاقي اصولو او ديني احکامو ترويج کوي او د خلکو د اخلاقو او کردار په ښه کولو کې مرسته

۳مخ

# شاعري هنر دی؟

دوکتور محب وزير

دا خـــبره ډېره اورېدل کېږي چې شاعري ارټ يا فن دی چې په پښتو کـــې ورته د هنر ټکی کارول کېږي. هنر يا فن خو باقاعده زده کېږي. خلک پـه بېلابېلو څانګو کې هنري زده کړې کوي. لکه موسېقۍ کې، اداکارۍ کې، دستکارۍ کې يا ترکانۍ وغېره کـــې. مونږ دا هم کتلي دي چې بېلابېلو څانګو کـــې د هنرمندانو اولادونه هم د هغه هنر سره تړل شوي وي يعني باقاعده پـــه ميراث کې پاتې کېږي. د شاعرۍ په اړه دا هـــم ويل کېږي چې شاعري د زده کړې کوم شی نه دی. نـــو چې د زده کړې شی نه دی نو بيا هنر څنګه شو؟

د شاعرۍ په ترڅ کې درې مشهور تعريفونه داسې دي:
يو: د غوره ټکو (کلمو) غوره ترتيب ته شاعري وايي.
دويم: که مـــا نه تپوس نه کوئ خو پرې پوهېږم او که تپوس کوئ نو نه پرې پوهېږم، يعني په ټکو کې د شاعرۍ تعريف نه شي کېدی چې څه ده او څنګه کېږي.
درېيم: شاعري هغه يـــو نرۍ غونډې احساس يا لمس دی چـــې د زړارې سره والوځي يعني کومه ژبه کې چې شاعري شوې وي، هلته يې چـــې لولې نو شاعري وي خو که بلې کـــومې ژبې ته دې وژباړله نو مواد يا فکر يا مطالعه خو مخې ته راشي، ولې شاعري پاتې نه شي.

د شاعرۍ درې مشهور تعريفونه داسې دي:
اول: د غوره کلمو غوره ترتيب ته شاعري وايي.
دويم: که ما نه تپوس نه کوئ خو پرې پوهېږم او کـه تپوس کوئ نو بيا نـــه پرې پوهېږم، يعني پـه ټـکو (کلمو) کې د شاعرۍ تعريف نــه شي کېدی چې څه ده او څنګه کېږي.
درېيم: شاعري هغه يـــو نرۍ غونډې احساس يا لمس دی چـــې د ژباړې سره والوځي.

دغه درې واړه تعريفونه که مونږ واخلو او يو چا ته يې ور زده کـــوو نو د غوره ټکو (کلمو) غوره ترتيب به څنګه وي، يعني دا غوره ټکـــي (کلمې) به اول پېژنو څنګه؟ او بل به دا غوره ټکي (کلمې) راوړو له کومه ځايه؟ او دا باقي دوه تعريفونه خـــو ببخي د تشريح کولو هم نه دي. نو بيا شاعري هنر يا فن څنګه شو؟

نـــو چې هنر يا فن نه شو بيا شاعري څه څيز پاتې شو؟ شاعري په بنيادي توګه يــو ترنګ دی. ترنګ زده کېږي نه، ترنګ په انسان کـــې موجود وي. ترنګ بنيادي طور فطرت دی، فطرت زده کېږي نـــــه فطرت اخذ کېږي او فطرت بنيادي طور طبيعت دی. طبيعت زده کېږي نـــــه بلکې جوړېږي. يعني دا لـــــه چاپېريال څخه اخذ کېږي او د تربيت سره جوړېږي. اوس دغه ترنګ تـــه که څوک بل غوره نوم ورکولی شي نو هم کېدای شي خـــو دا مهال زه بل داسې کوم لفظ او کلمه نه لرم چې د شاعرۍ لپاره يې وکاروم.

څو پورې چې د شاعرۍ سره د هنرکارۍ تړون دی، هغه دومره پورې دی چې د شاعرۍ د نور زينت او ښکلا لپاره د شاعرۍ لوازم زده کول دي، لکه صنعت ګري، د افکارو لپاره مطالعه، د ټولنيزې ترجمانۍ لپاره مشاهده... نو دغه ټول لوازم دي، شاعري نه ده چې شاعري پرې نوره هم ښايسته کېږي او باقاعده زده کول کېږي. **پای**


ZERAY
Afghanistan Sciences Academy (ASA)

**Editor - In - Chief:**
Associate Professor
Muhammad Ishaq Khawreen (PhD)

**Assistant:**
Assistant Professor Pashtoon Pashtoon

*Compose & Layout Design:*
Dr. Khawreen

**Address:** Center for Languages & Literature,
Institute of Pashto Language & Literature (ASA)
Shahr-e-Naw Kabul - Afghanistan
**Contacts:** (+93)(0)202201279/(+93)(0)780831960
**Email:**zerai1316@asa.gov.af/zerai1316@gmail.com